د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هیواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۱۲/ ربيع الثاني /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۵ / عقرب /۱۴۰۲هـ، ش

# د اسلام له نظره د میراث ورکولو ضرورت او اهمیت

الحمد لله الذي قسم الميراث بنفسه وهو أعدل من قسم وهو الذي علم بالقلم علم الإنسان مالم يعلم، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له في عبادته وهو أعلم وأحكم، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله أصدق البرية لساناً وأعلاها مقاماً وأعظمها شأناً؛ صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليما كثيراً. (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ)[آل عمران: ۱۰۲]،

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا * يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا)[الأحزاب

اسلام د ژوند په هره برخه کې ځانګړي قوانين لري چې عمل ورباندې واجب او فرض دی چې د هغوله جملې څخه د ميراث موضوع ده.

داسلام په سپيځلي دين کې هرڅوک د مړ شخص څخه په پاتې شوي مال کې ځانګړې برخې لري او بايد چې هرچا ته د متروکه مال څخه خپله خپله برخه ورکړل شي او د ورثه وو څخه هيڅوک له خپل حق څخه محروم او بې برخې نشي.

د اسلام مقدس دين د حق او عدالت دين دی او ظلم نه مني؛ ځکه ظلم به د قيامت په ورځ تورې تيارې وي او الله جل جلاله د مړي څخه وروسته په متروکه مال کې کومې برخې معلومې کړي دي او هيچا ته ددې اجازه نشته چې ددغو حکمونو څخه تجاوز وکړي .

الله تعالی د ميراث هغه حقونه چې خلکو ته ورکول کيږي او الله تعالی د خلکولپاره معلوم کړي دي داهميت له مخې يې ورته حدود ويلي دي او دهرچا حد په کې معلوم دی او بايد چې ددغو حدودو او پولو څخه څوک تير نشي. { وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ } الطلاق: ۱

ترجمه:- او دغه د الله حدونه دي او هر څوک چې د الله له حدونو نه تير شی يقينا ده پخپل ځان ظلم وکړه.

د ميراث موضوع دومره مهمه او ضروري موضوع ده چې الله تعالی يې په اړه مستقل آيتونه رااليږلي دي او د ورثه د هر وارث حق يې په کې واضح کړی دی.

په یو آیت شریف کی راځی:{لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا}النساء:(۷)

ترجمه:- د نارینه وو لپاره حصه شته له هغه (مال) نه چی مور او پلار او نژدې خپلوان یي پریږدي او دښځو لپاره (هم) حصه شته له هغه(مال)نه چې مور او پلار او نژدې خپلوان یې پریږدي له هغه(مال)نه چې لږ وي یا ډیر وي مقرر کړی شوې برخه ده.

تر اسلام مخکې په عربو او عجمو کې دکمزوري قسم دیتیم، کوچنی او ښځو همیشه بد حال تیر شوی دی او ظلم او زیاتی وربانديې کیده. اول خو به چاد دوی حق نه منلو او که چیرې به یې منلو؛ نو دخلکو نه ددوی مال وصولول او ددی محفوظ ساتل دچاپه قدرت کی نه ؤ ، اسلام تر ټولو اول دوی ته حقونه ورکړل بیایې ددې حقونو د حفاظت مکمل انتظام وکړ. د وراثت په قانون کې هم عامو قومونو ددنیا معاشرې دواړه کمزوري طبقې یتیم او ښځه دخپل فطري او واجبي حقونو څخه محرومه کړی ؤ، عربو خو دا اصول جوړ کړی وو چې دمیراث مستحق یواځې هغه ځوک دي کوم چې پر آس سپریدی شي او د دښمن مقابله کولای شي او دغنیمت مال جمع کولی شي. ښکاره خبره ده چې دا دواړه قسمونه ښځې او کوچنیان په دې اصولو کې نه راتلل، نو په دې وجه د دوی د اصولو پربنا یواځې ځوان، بالغ هلك دمیراث حقدار ؤ ، انجلی خو به مطلقا وارثه نه شوه ګڼل کیدای، که بالغه به وه او که نابالغه ، او هلك هم هغه وخت مستحق ګڼل کیده چې بالغ به ؤ که به بالغ نه ؤ نو د میراث حقدار به نه ؤ.

دنبی کریم ﷺ په مبارك وخت کې یوه واقعه داسې پیښه شوه چې اوس بن ثابت وفات شو دوه انجونې یو نابالغه هلک او یوه ښځه یې وارثان پاته شول، لیکن دعربو دزاړه دستور مطابق دده دوه د اکا زامن راغلل او د مرحوم پرټول مال یی قبضه وکړه او دهغه اولادو اوښځی لره یې هیڅ شی هم ورنه کړ ؛ ځکه چې د دوی په نزد ښځه خو مطلق دمیراث څخه محرومه وه که بالغه به وه او که نابالغه نو ښځه او دواړه لوڼی خویی دغسې محرومه پاته شوی . او هلك د کوچنیوالي په وجه محروم شو، نو په دې وجه ټول مال یې داکا دوه زامنو قبضه کړ ، داوس بن ثابت ښځې داهم و غوښتل چې دا کا زامن چې ټول مال یې قبضه کړ؛ نو دا دوه انجونې دې هم په نکاح و اخلي چې ددوی د فکر څخه خو بې غمه شم ، لیکن هغوی دا انجونې قبولې نه کړی، نو د اوس بن ثابت دغه کونډه نبي کریم ﷺ ته راغله او خپل حال یې ورته بیان کړ ، تر دغه وخته پورې په قرآن کریم کې د میراث آیت نه ؤ نازل شوی؛ نو په دې وجه نبي کریم ﷺ په جواب ورکولو کې صبر و کړ؛ ځکه چې دده دا یقین وو چې د وحې الهي په ذریعه به ددې ظالمانه قانون دبدلولو حکم خامخا راشي، نو دغه وخت دا آیت شریف نازل شو(د للرجال نصيب څخه تر نصيبا مفروضا )پورې او تر دې وروسته نور دمیراث آیتونه نازل شول چې دحصو تفصیلات په کې دی او ددی سورت په دوهمه رکوع کې ددې تفصیلات ذکر شوي د ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قرآن د حکم مطابق د ټولې ترکې اتمه حصه دغه کونډې ته ورکړه او نور مال یې د مرحوم په زوی اولوڼو باندې داسې تقسیم کړ چې نیم یی هلك ته ورکړ او نیم یې په دواړو انجونو باندې برابر تقسیم کړ او دا کا زامن یی چونکه د اولاد په نسبت زیات نژدی نه وه نو هغوی ورڅخه محرومه شول. (روح المعانی)

الله تعالی د میراث په باره کې خلکو ته امر کړ دی. { يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ}النساء: ۱۱

ترجمه:- الله تاسو ته ستاسو د اولاد په باره کی وصیت کوی(چې)د یو نر اولاد لپاره د دوه جینکیو(لوڼو)د حصی په مثل(حصه)ده.

په دې مبارک آیت کې الله تعالی د میراث په ورکولو سره امر کړی دی.

ابن کثیر ددې أیت په تفسیر کې وایې :( أي يأمركم بالعدل فيهم) تفسير ابن كثير (۱/ ۵۶۵)

دلته د وصیت څخه مراد حکم او امر دی. نو مونږ ته په کاردي چې د الله تعالی حکم ومنو او او مستحقینو ته خپل میراث ورکړو.

یوه ورځې نبي کریم ته د سعد بن الربیع ښځه ورغله او ورته یې وویلې چې ای د الله پیغمبره! دا دواړه د سعد لورګانې دي چې پلار یې ستا سره د احد په غزا کښې شهید شو، د دوی دواړو کاکا سعد ټول مال واخست دغو دواړو ته یې هیڅ شی پرینښود،

حال دا چې دوی دواړه خو بدون د مال څخه نه شي ودېدلی. نبي کريم وفرمايل چې په دې کښې به الله فيصله وکړي. نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه.

نو نبي کريم د جنکيانو کاکا راوغوښت او هدايت يې ورته وکړ چې: «اعْطِ ابنتي سَعْدِ الثلثين وَاعْطِ أُمهُمَا الثَّمَن وَمَا بَقِي فَهُوَ لَكَ»(۳) يعني: د سعد دواړو لورګانو ته دوه ثلثه ورکړه او د دوی دواړو مور (کونډې) ته اتمه برخه ورکړه او څه چې پاتې شوه نو هغه ستا شوه.

دا په اسلام کښې لومړنی ترکه وه چې نبي کريم ووېشله لنډه دا چې په ذکر شوي حديث سره ايت شريف تفسير شوی دی.

فايده:په دې مقام کښې الله جل جلاله د اولادونو په برخو کښې داسې عبارت را نازل کړ چې د لورګانو برخې يې مشبه به واقع کړې او د زامنو برخې يې ورسره تشبيه کړې. يا په بل عبارت: د اولادونو د برخو په بيان کښې د لورګانو برخې معيارګاکلې ترڅو مسلمانان په غوږ ووهي چې د لورګانو په برخو کښې سختی مه کوی دا سې وګڼی لکه چې دوی اصلې وارثانې وي او زامن چې تاسو ميراث هغوی ته ځانګړی کړی دی په ميراث کښې عارضي دي او دا ځکه چې په تشبيه کښې مشبه به اصل وي. او مشبه فرعه وی.

د پورتني آيت په خاتمه کې الله تعالی چې دا برخې او حصې خپلو خپلو مستحقينو ته ورکول د الله تعالی له خوا فرض عمل دی.
{ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا} النساء: ۱۱
ترجمه:- دا مقرره برخه ده د الله له جانبه بيشکه الله ښه پوه ښه حکمت والادی.
ددې أيت په يوه برخه کې راځي چې ميراث ورکول خپلو حقدارانو ته الهي وصيت دی او بايد چې تاسو ور باندې عمل وکړئ.
{ وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ }النساء: ۱۲
ترجمه:- دا د الله له جانبه وصيت دی او الله ښه پوه ښه تحمل والا دی.
په يو مبارک آيت کې راځي چې څوک د الله تعالی د امر او حکم څخه سرغړونه کوي دا خلک ګمراه دي .
{يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ أَنْ تَضِلُّوا وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ } النساء: ۱۷۶
ترجمه:- الله تاسو ته ښه وضاحت کوی چی تاسو ګمراه نشی او الله په هر شي ښه عالم دی.
د ميراث د حکمونو پر خلاف عمل کول ډيرې بدې پايلې لري:
۱- دالله تعالی د حکم څخه تمرد او سرکشي د الله تعالی د عذاب او د فتنې باعث ګرځي.
{ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} النور: ۶۳
ترجمه:- نو هغه کسان دی ووېرېږی چی د هغه (رسول) له حکم نه مخالفت کوی له دينه چی دوی ته څه آفت ورسيږی يا دوی ته ډير دردوونکی عذاب ورسيږی.
لکه چې مخکې مو وويل ميراث دالله عزوجل حکم او امر دی لکه څرنګه چې د لمانځه پر کولو يې امر کړی دی او د زکات په ورکولو يې امر کړی دی ، دغه شان د ميراث په موضوع کې د الله تعالی حکم منل زمونږ مسئوليت دی.
د مؤمن شان دادی چې بايد د زړه د دتله د الله تعالی حکمونو او فيصلو ته غاړه کيږي او هغه په خلاص زړه سره ومني ځکه چې د الله تعالی او د هغه د رسول فيصلې منل د ايمان نښه ده او نه منل يې دنفاق علامه ده.
مونږ ټولو ته په کاردې چې د الله تعالی حکمونه او فيصلې په خپل ځان باندې عملي کړو ولو که ظاهرا زمونږ په زيان او تاوان تماميږي. الله تعالی فرمايلي دي. {فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ}النساء: ۶۵

ترجمه:- پس داسی نه ده ستا په رب مې دی قسم وی دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پوری چه دوی پخپل مینځ کي په پیښنو جګړو کی تا فیصله کونکی ومنی.
په دې آیت مبارک کې په تاکید سره ویل شوي دي چې ترهغې پورې څوک مسلمان کیدای نشي ترڅ پورې ستا فیصلو ته غاړه کینږدي او ورته تسلیم نشي.

الله تعالی د میراث په اړه فیصله کړې ده او باید چې دالله فیصله په ځان عملي کړو او د میراث مستحقینو ته خپله برخه ورکړو ولو که زمونږ نفسونه یې نه مني .{تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ} النساء:١٣-١٤
امام ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې لیکلي دي: (أي: هذه الفرائض والمقادير التي جعلها الله للورثة بحسب قُربهم من الميت واحتياجهم إليه وفقدهم له عند عدمه، هي حدود الله فلا تعتدوها ولا تجاوزوها؛ ولهذا قال: { وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ } أي: فيها، فلم يزد بعض الورثة ولم (٦) ينقص بعضًا بحيلة ووسيلة، بل تركهم على حكم الله وفريضته وقسمته { يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ } أي، لكونه غيَّر ما حكم الله به وضاد الله في حكمه. وهذا إنما يصدر عن عدم الرضا بما قسم الله وحكم به، ولهذا يجازيه بالإهانة في العذاب الأليم المقيم). تفسير ابن كثير(٢/ ٢٣٢)
**٢**- د میراث مال خوړل په باطله سره او خپلو مستحقینو ته یې نه ورکول دا هغه څه دي چې الله تعالی ورڅخه مونږ منع کړي یو، ځکه د بل مال خوړل حرام دي . { وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ }البقرة: ١٨٨

ترجمه:- او خپل مالونه په خپل مینځ کی په ناحقه سره مه خوری.

په یو حدیث شریف کی داسی راځی: وعن أنس له قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ «مَنْ قَطَعَ مِيرَاثَ وَارِثِهِ قَطَعَ اللَّهُ مِيرَاثَهُ مِن الجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رواه ابن ماجة ورواه البيهقي في شعب الإيمان عن أبي هريرة مشكوة رقم (٣٠٧٩)
ترجمه:- له حضرت انس الله څخه روایت دي فرمائي چه رسول الله وفرمائیل، کوم سړي چه دخپل وارث میراث قطع کړي ، نو الله تعالي به د قیامت په ورځ د هغه د جنت میراث قطع کړي .
(فائده) په قرآن مجید کی الله تعالي مؤمنانوته زیري ورکړي دي الله
تعالي فرمائي (يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ )یعني مؤمنان به دجنت وارثان وي . نورسول الله وفرمائیل کوم سړي چه په ناجائزه طریقه سره خپل وارث دمیراث څخه بي نصیبه کړي، ددې مقصد دادی چه داسي سړی به په اول کښي دنجات یافته خلقو سره به په جنت کښي نه داخلیږی.
همدا راز نبي علیه السلام فرمایلي دي چې څوک چې پردی مال وخوري ، جنت وربانديې حرام دی. برابره خبره ده چې هغه مال ځمکه وي، پیسې وي او نور مالي اجناس وي او د میراث مال د خپل حقدار څخه منع کول ، دحرام مال خوړل دي. (عن جابر بن عبدالله رضي الله عنه، أنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لَنْ يَدْخُلَ الجَنَّةَ لَحمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ) المستدرك (٤/ ١٤١و أخرجه الترمذي وغيره،
ترجمه:- هیڅکله به داخل نشي جنت ته هغه خوښه چې په حرامو تغذیه شوي وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: وقال:(لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ، إِلَّا طَوَّقَهُ اللَّهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)؛ صحیح مسلم (٥/ ٥٧)

ترجمه:- نه اخلي څوک یوه لویشت ځمکه په ناحقه سره مګر دا چې په غاړه کې به یې ورته واچوي الله تر اوو ځمکو پورې د قیامت په ورځ.

نو مونږ ته په کاردي چې په ناروا د چا مال ونه خورو او هر چاته د میراث خپل حق ور وسپارو.

۳- د میراث خوړل ظلم دی ځکه چې د بل چا مال او میراث په ناحقه، جبر او زور سره خوړل دي او د بل په مال کې په ناحقه تصرف دی.څوک چې د چا د میراث له حق څخه منکر شو او یایې ورڅخه میراث منع کړ، په حقیقت ده په هغه ظلم وکړ او الله تعالی ظلم کوونکي نه خوښوي . الله تعالی د ظالمانو لپاره سخت وعید ذکر کړی دی.

{فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظَّالِمِينَ} القصص: ۴۰

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:{ أَلَا إِنَّ الظَّالِمِينَ فِي عَذَابٍ مُقِيمٍ} الشوری: ۴۵

کوم کسان چې هغوی ته په میراث کې برخه نه ورکول کیږي او د خپل حقه حق څخه محرومیږي ، دوی مظلوم دي او د مظلوم سره الله تعالی د مرستې او کومک وعده کړی ده. په یو حدیث شریف کې راځي: ( ثَلَاثَةٌ لاَ تُرَدُّ دَعْوَتُهُمُ الإِمَامُ الْعَادِلُ وَالصَّائِمُ حَتَّى يُفْطِرَ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ تُحْمَلُ عَلَى الْغَمَامِ وَتُفْتَحُ لَهَا أَبْوَابُ السَّمَوَاتِ وَيَقُولُ لَهَا الرَّبُّ وَعِزَّتِى لأَنْصُرَنَّكِ وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ ). سنن الترمذي (٤/ ٦٧٢)

ترجمه:- دری کسان دي چې ددی دعاء نه مسترد کیږي یو عادل پاچا ، دوهم روژه دار ترڅو چې روژه ماته کړي او بل دعاء د مظلوم دده دعاء به وریځو دپاسه به وړلی شي او د آسمان دراوزې به ورته برسیره کولی شي او پروردګار به ورته ووایې زمادې په خپل عزت قسم وي زه به ستا مرسته کوم ولو که څه موده وروسته وي.

۴- د میراث په خوړلو کې خپلولي او صله رحمې له منځه ځي. په دې کې هیڅ شک نشته چې د خلکو حق خوړل او یا ورته کم ورکول دکورنیو ترمنځ شخړې پیداکوي او خپلوي په دښمنی بدلوي، کوم حق چې الله تعالی د چا لپاره مقرر کړی وي او هغه ورڅخه منع شي او یا ورته په کمه اندازه ورکړل شي حتماً په زړونو کې کرکه او نفرت پیدا کوي او جنجالونه زیږوي.

## په اسلام کې د میراث فلسفه په لاندې خبرو ترکیز کوي:

دالله تعالی عدالت: الله تعالی هرچاته په میراث کې حق ورکړی دی البته د میراث سبب دوه شیان دي چې یو نکاح ده او بل نسب دی.الله تعالی چې چا ته کوم حق ورکړی دی هیڅوک نشي کولای چې د خپل مشروع حق څخه یې بې برخې کړي.

- د میراث حقوقو د الله تعالی له لورې ټاکل شوي دي او دا کومه نفسي او بشري فیصله نه ده: {فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوَى أَنْ تَعْدِلُوا وَإِنْ تَلْوُوا أَوْ تُعْرِضُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا } النساء: ۱۳۵

ترجمه:- نو تاسو ( له حق نه) او ړیدلو لپاره د خواهشاتو پیروي مه کوی او که تاسو ژبي کږی کړی یا مخ واړه وی نو یقینا الله پر هغو کارونو چې تا سو یې کوئ ښه خبر دار دی.

- د میراث ثبوت په قطعي الدلالت او قطعي الثبوت آیتونو سره شوی دی چې د اجتهاد لپاره په کې ځای نشته او څوک نشي کولای چې د زمانې او حالاتو په کتو سره اجتهاد په کی وچلوي.

- نرتوب او ښځه والی د میراث د تقسیم لپاره معیار نه دی. یعنې څوک نشي کولای چې د نروالي په اعتبار سره څوک د میراث مستحق وګرځوي او یا ښځه د ښځه والي په اعتبار سره د میراث څخه محرومه کړي لکه د جاهلیت د زمانې په شان.

## د ښځې میراث د جاهلیت په زمانه کې:

يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كُرْهًا (۱۹) النساء.
ترجمه:- ای هغو کسانو چی ایمانی راوړی دی تاسو لپاره حلال نه دی چي ښځی په زور سره میراث کی واخلی.ألا لا تَظْلِمُوا ألا لا يَحِلُّ مَالَ إِمْرَةٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ. مشکوة ص: ۲۵۵
په حدیث کی نبي علیه السلام فرمایی خبر دار! ظلم مه کوی او خبر دار! د بل شخص د مال خوړل جواز نه لری مګر د ده په اجازه سره .
سد جاهلیت په زمانه کی پر ښځو زیات ظلمونه کیدل.
د جاهلیت په زمانه کې پر ښځو باندې دا درې قسمه ظلم کیده اول د میړه د طرفه څخه دا ظلم پر کیده دا ښځه به یې تر خپل سیاست لاندې کړه تنګي به یې ورباندې راوستله چې دا مجبوره شي خپل مهر راته معاف کړي. دوهم ظلم دا پرې کیده چې د دې د مهر مال به د ښځې حق نه ګڼل کیده؛ بلکې دا به یوازې د دې د اقرباؤ حق ؤ . دریم ظلم د میړه د مرګ څخه وروسته د میړه د وارثانو د طرفه څخه  دا ظلم کیده ور باندی چې دغی ښځې ته به په میراث کې د میړه یو حصه و رسیده او یا به ښځه په تحفه کې د خپلو قریبانو څخه یوڅه مال را جمعه کړی ؤ نو د میړه اقرباؤ به ورته وویل تر هغه وخته تاته د نکاح اجازه نسته مګر دا چې دغه مال مونږ ته را و ښنېٔ  او د میراث مطالبه ر اخخه ونه کړی .(معارف القرآن)

- د اوس زمانی ظلم پر ښځه :متأسفانه په نن زمانه کی هم د جاهلیت د دوری ظلمونه پر ښځو شروع دی، یو ظلم ورباندی کیږی چی د مهر د مال ښځه هیچ اختیار نه لری دا مال اقرباء د خپل ځان حق بولی او ښځه دا اختیار نه لری. دوهم ظلم: د میراث په حصه کی ورباندی کیږی که د پلار د طرفه نه څه د میراث حق پیدا کړی نو ورونه یا نور خپلوان زور ورباندی لګوی چی د میراث حق ور څخه را وګرځی ، رنګا رنګ حیلی ورته جوړوی ځکه دا د خپل ځان د پاره شرم او عار بولی چی خور خپل حق ورڅخه جدا کړی او بعضی کسان چی ځان ته دین داره وایی دوی خپلی خور ته وایی د میراث حصه مونږ ته را وښښه، اوس چی هغه دا خور ځانه سره فکر وکړی چی راکوی خو یی نه نو دا معمولی تعلق  ولی خرابوم ورته ووایی  چی در ته بخښلی می دی او که د میړه د طرفه څخه د میراث حصه ورسیږی بیاد میړه قریبان د میراث د بخښنی زور ورباندی لګوی محترمو مسلمانانو! دا صراحة ظلم دی د داسی ظلم څخه پرهیز په کار دی دا قسم ښښنه سړی ته مال نه حلالوی بلکه دا مال خوړل حرام دی داسی مثال لری لکه د: سلاح به زور سره چی په یو چا زور ولګوی دا را و ښښه او علاوه د دینه د غیرت تقاضا هم دا نه ده ځکه ښځه عاجزه ده د رحم قابله ده د کار او خدمت توان نه لری ستا د پاره مناسب دا ده چی د خپلی حصی څخه څه  دی ته ورکړی او ځان ته غیرت و دروی چی ښځه خو عاجزه هم ده هغه زما د حصی نیم مقدار وړی .